# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۱۲مه | دویم کال| ۳۳٤مه ګڼه


## ځېره

۴ مخ



**لويي پاستور**

پاستور د انسانانو د لېونتوب دويم واکسين کشف کړ چې له دي څخه ۸۹ کاله مخکې د ادوارد جنر له خوا يې لومړی کشف شوی و.

## ولسمشر غني او حامد کرزی: په کب کې جوړېدونکې مشورتي لويه جرګه دايمي سولې او ثبات ته مهمه ده



۳

## د ملکي مرګ ژوبلې وروستۍ څپه

۲ مخ

## د افغانستان اوسنی پېچلی حالت او د احتمالي سولې لپاره د ولس هيلې

۲ مخ

## څنګه له فرصتونو استفاده وکړو؟

۵ مخ

## په غزني کې په راتلونکو دوو کلونو کې ۲۳٦ ښوونځي جوړېږي



د غزني د پوهنې رياست چارواکي وايي، د دغه ولايت په بېلابېلو ولسواليو کې به تر راتلونکو دوو کلونو پورې ۲۳٦ ښوونځيو ته ودانۍ جوړې کړي.

د غزني د پوهنې رييس مجيب رحمان انصار ويلي، دغه ښوونځي به د غزني پر مرکز سربېره، د دغه ولايت په بېلابېلو ولسواليو کې جوړ شي.

د نوموړي په خبره، د دغو ښوونځيو د لګښت ټول مصارف د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت له لوري ورکول کېږي.

هغه زياته کړې چې ۱۱۳ ښوونځيو ته به په راتلونکي ۱۳۹۸ لمريز کال او پاتې نورو ۱۲۳ ته په ۱۳۹۹ لمريز کال کې ودانۍ جوړې شي.

نوموړي دغه راز ويلي، د دغه ولايت ۳۰۰ ښوونځي چې د ټول ولايت ۵۰ سلنه جوړوي، ودانۍ نه لري او په خبره يې، زده کوونکي يې په يخو او ګرمو ورځو کې تر خيمو لاندې زده کړې کوي.

## شاناهان: دا په افغانانو پورې اړه لري چې د خپل هېواد په هکله پرېکړه وکړي

د امريکا د دفاع وزارت سرپرست پاټريک شاناهان تېره ورځ کابل ته د يو ناڅاپي سفر په ترڅ کې د افغانستان د دفاع وزارت له سرپرست اسدالله خالد سره په ليدنه کې د افغان سرتېرو پر تجهيز، روزنې او له تروريزم سره پر مبارزې ټينګار کړی دی.

دفاع وزارت په خپره شوې اعلاميه کې ويلي چې دواړو لورو د افغان ځانګړو ځواکونو په قوماندانۍ کې سره ليدلي او ښاغلي خالد د افغان سرتېرو د تجهيز او روزنې په برخه کې له امريکا څخه د زياتو همکاريو غوښتنه کړې ده.

پاټريک شاناهان افغانستان ته د خپل سفر پر مهال هغو خبريالانو ته چې له ده سره يې ملتيا کوله ويلي، نوموړی غواړي افغان چارواکو ته ووايي چې د هېواد راتلونکی مو ستاسې په پرېکړو پورې اړه لري.

د امريکا د دفاع وزارت سرپرست داسې مهال افغانستان ته سفر کوي چې په دې وروستيو کې د افغان سولې په اړه د امريکا متحده ايالتونو هڅې چټکې شوې دي او د دغه هېواد ولسمشر ډونالډ ټرمپ په دغو خبرو کې د پرمختګ خبر ورکړی دی. ټرمپ ويلي وو، که د سولې خبرې نتيجه ورکړي، په افغانستان کې به د خپلو سرتېرو شمېر راکم کړي او يو محدود شمېر سرتېري به د استخباراتي ماموريت تر سره کولو لپاره پرېږدي.

خو تر دې مهاله په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو کمولو په اړه لا پرېکړه نه ده شوې.

د امريکا دفاع وزارت سرپرست هم کابل ته د خپل سفر پرمهال ويلي چې هغه ته په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو د شمېر کمېدو په اړه امر نه دی شوی.

## د ټاکنو قانون تعديل د ولسمشريزو ټاکنو د ځنډ لپاره بهانه ده



۲ مخ

## مأموريت قاطع: تا رسيدن به صلح جنگ با طالبان ادامه خواهد داشت



همزمان با تلاش‌های صلح، مأموريت پشتيبانی قاطع و وزارت دفاع ملی از افزايش حمله‌ها در برابر گروه طالبان خبر می‌دهند.

غفور احمد جاويد، سخنگوی وزارت دفاع ملی می گفته است که همين اکنون عمليات‌های آنان در نزديک به پانزده ولايت کشور ادامه دارند.

او در اين باره می‌افزوده است: «در ولايت‌های مختلف عمليات‌های ما به خوبی به پيش می‌روند و طالبان تلفات سنگينی را نيز متقبل شده‌اند و در سه هفته گذشته ده قوماندان آنان نيز کشته شده‌اند و عمليات‌های ما در برابر داعش هم ادامه دارند».

در همين حال، مأموريت پشتيبانی قاطع، گفته است که تا هنگام رسيدن به يک توافق صلح فشارهای نظامی بر طالبان کاهش نخواهند يافت.

ديويد بتلر، سخن گوی مأموريت پشتيبانی قاطع گفته است: «ما به جنگ ادامه می‌دهيم و اين جنگ همه روزه تا هنگام رسيدن به يک توافق صلح ادامه خواهد داشت، اين مهم است بدانيد که فشارهای نظامی مان بر طالبان ادامه دارد».

در همين حال، شماری از نظاميان پيشين نيز تأکيد دارند که بايد عمليات‌ها در برابر طالبان افزايش يابند.

با اين همه، مأموريت پشتيبانی قاطع در کنار کمک به نيروهای دولتی در ميدان جنگ، از تلاش‌ها برای بسيج نيروهای دولتی افغانستان نيز سخن می گفته است و افزايش توانايی‌ها را در بخش هوايی نيروهای دولتی و کماندوها دلگرم کننده می‌داند.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal
ENGLISH ACADEMY

ADMISSION OPEN

Dehbori, Second street behind Dehbori Park, 3rd district, Kabul, Afghanistan. 0784189282

## دریځ

### د ملکي مرګ ژوبلې وروستۍ څپه

په یوه اونۍ کې څو ځله په هوایي بریدونو او د ګډو ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې رپوټونه ورکړل شوي. په هلمند کې په یوه برید کې شاوخوا شل ملکیان شیهدان شول چې ښځې او ماشومان هم پکې وو. همداسې څو پېښې په وردګو کې وشوې او بیا ورمه شپه په کونړ کې هم څو ملکي وګړي شهیدان شول. دا پېښې په داسې وخت کې کېږي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې روانې دي. دغه راز د افغان سیاستوالو او طالبانو ترمنځ هم په مسکو کې غونډه وشوه، خو په دغو غونډو کې حکومت نشته.

حکومت د ملکي وګړو د وژنې په اړه غلی دی او څه نه وایي. نه یې غندي، نه پلټنه کوي او نه هم د داسې پېښو د تکرار د مخنیوي ژمنه کوي. داسې لکه هېڅ چې نه وي شوي، لکه وژل شوي چې انسانان نه وي، لکه افغانان چې نه وي او لکه حکومت چې د دغو خلکو په اړه هېڅ مسوولیت نه لري. یا لکه کونړ، وردګ او هلمند چې د افغانستان خاوره نه وي.

د ملي یووالي حکومت مشران د دغو وژنو په اړه ښایي له دې امله هم سکوت کوي چې که څه ووایي، امریکایي دوستان به یې خپه شي او دا بیا هغه چاره ده چې دوی ته په راتلونکو ټاکنو کې ګرانه پرېوځي. له همدې امله دوی غواړي د خپلو خلکو د وژنې په اړه په چوپتیا سره امریکایان خوښ وساتي او خپل واک او ځواک وغځوي. څومره چې ټاکنې را نږدې کېږي، په همغه کچه به د ملي یووالي حکومت د دغو وژنو په اړه غلی وي. له بله اړخه که حکومت په دغو وژنو کې ښکېل وي او یوازې بهرني ځواکونه یې نه کوي، نو د دې مانا دا ده چې دوی غواړي په وژلو سره د سولې د روانې پروسې پر وړاندې خنډونه پیدا کړي چې دا هم په هېڅ ډول د منلو چاره نه ده.

له بده مرغه یوازې حکومت نه دی چې پر دغو وحشتونو چوپ دی. د بشري حقونو ډېری سازمانونه، په کابل کې د بشري حقونو کمېسیون، له حکومت څخه د باندې سیاستوال، په اصطلاح جهادي مشران او تش په نوم روشنفکران ټول د دغو جنایتونو پر وړاندې غلي دي. جنایتکاران، د جنایت شریکان او هغوی چې په دې اړه غلي دي، ټول د ولس پر وړاندې مسوول دي.

د ملکي وګړو د وژنې دغه پراخه څپه به بدې پایلې ولري. له یوه اړخه به حکومت د جګړه خوښوونکي او ولس وژونکي ځواک په توګه را څرګند شي او له بل اړخه به خلک پوه شي چې د سولې اصلي مخالفین څوک دي. که حکومت رښتیا د افغانانو د ګټو ساتندوی وي او قانون ته درناوی لري، نو پکار ده چې د ولس دا وژنه نوره ودروي. په دې وژنه کې ښکېل کسان دې محاکمه شي او که امریکایي ځواکونه دا کار کوي، حکومت ته پکار ده چې په زغرده یې مخه ونیسي او یا لږ تر لږه دا وحشتونه وغندي او ولس ته ووایي چې څوک د دغو بریدونو تر شا دي. له دې پرته د ټولو چارو مسوولیت د حکومتي چارواکو پر غاړه دی او په دې تړاو به ورسره حساب کېږي.

# د افغانستان اوسنی پېچلی حالت او د احتمالي سولې لپاره د ولس هیلې

لیکنه: سباوون حقیار / وروستۍ برخه

**د افغانستان د سولې په مذاکراتو کې ساحوي ښکېل اړخونه:**

**الف- پاکستان**

دا چې پاکستان د سولې په پروسه کې همکاري کوي، داسې نه ده چې دوی د افغانانو غم پر سر اخیستي او نه هم د خدای لپاره دغه کار کوي، بلکې هغه د افغان او بیا په ځانګړې توګه د پښتنو په تباهۍ کې خپله د پنجاب اباديویني. په هرحال، پاکستان ته خپلې ملي ګټې او ارزښتونه تر هرڅه مهم دي او کله چې هره مسئله په نظر کې نیسي، دوی ته خپل ملي ارزښتونه او ملي ګټې لومړیتوب لري چې دلته پر څلورو کلیدي موضوعاتو بحث کوو.

**لومړی:** د ډیورنډ فرضي کرښې سرنوشت په رسمي ډول معلومول، یعنې د پاکستان نظامي قوت چې په راس کې یې (ISI) دی، اوس په دې ښه پوهېږي چې افغانان نور له جنګ څخه ستړي دي او سوله په هر قیمت چې وي، غواړي یې. که ټولپوښتنه وشي، تاسې به په ټول افغانستان کې یو کس پیدا نه کړی چې وو اییي سوله نه غواړو، یعنې تر ټاکنو، معارف او هرڅه د مخه سوله غواړي او سولې ته لېوالتیا ښیي.

**دویم:** هغه اوبه چې له افغانستانه تر لاهوره ځي، په ځانګړي ډول د کونړ سیند چې د هغو اوبو د بندونو مخنیوی وکړي چې په راتلونکي کې د دوی د ځمکو د خړوبولو موانع نه شي.

**دریيم:** هغه د هند د فعالیتونو مخنیوی دی. پاکستان تل دا وېره لري که په افغانستان کې داسې حکومت رامنځته شي چې مناسبات یې له هند سره تر پاکستان ښه وي، نو کېدای شي چې د پېښور، کویټې او وزیرستان پښتانه او بلوڅان د دوی پر خلاف تقویه او استعمال کړي.

**څلورم:** د افغانستان ضعیف ساتل او ملوک الطوایفي پکې رامنځته کول.

**ب- هند**

هند هم غواړي چې د افغان سولې په پروسه او مذاکراتو کې مستقیم یا غیر مستقیم ځان دخیل کړي؛ په دې معنا که چېرې په افغانستان کې سوله راځي، نو دوی د کشمیر مسئله هم مطرح کولی شي او له داسې حکومت څخه هم وېره لري، چې سبا د دوی پر ضد وي او افغانان د کشمیر په ترهګرو ډلو کې د هند په خلاف وجنګېږي.

**ج: ایران**

ایران هم له تېرو څو کلونو راهیسې د افغانانو په بربادۍ او وژنه کې یې برخې نه دی پاتې شوی، له طالبانو سره یې تر خپلې وسې مالي او نظامي مرستو ته زور ورکړی، حتا د فراه، هلمند، نیمروز او هرات طالبان یې د روزنې لپاره د زاهدان نظامي کمپونو ته لېږلي، ترڅو ښه ورزنه ورکړل شي، چې د دوی یوازینی هدف دا و چې طالبان د امریکا پر ضد د افغانستان په خاوره کې وکاروي او همدرانګه امریکا ته داسې ضربه ورکړي چې د دوی د اقتصادي بندیزونو غچ ترې واخلي او همدارنګه د سلما، کجکي، کمال خان او بخش اباد د اوبو بندونه، چې د دوی پر وړاندې د اوبو موانع کېږي، له منځه یوسي او یا یې هم لږ تر لږه کارونه له خنډ سره مخ کړي چې تر یوه سرحده په دې کار کې بریالي روان هم دي. نور شرطونه هم لري چې په سر کې یې له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو حضور کمول او یا په بشپړ ډول ایستل دي.

بل له هغو ډلو سره چې د ایران په اذان روژه ماتوي او په افغاستان کې شتون لري، له هغوی سره د دوی اړیکو ته پراختیا او مشروعیت ورکول دي.

**د- روسیه**

روسیې هم له پخوا څخه د افغانستان خوبونه لیدل او حتی د دوی یرغل پر افغانستان باندې د دوی لپاره د په اقتصادي پرمختګ او سیمه ییز سیاست کې یوه نوې طرحه رامنځته کړه، چې هدف یې هند او د پاکستان د مارکېټونو انحصار او وروسته بیا عربو ته لاره پیدا کول دي، خو د روسیې هغه خوب پوره نه شو او هر څه یې سرچپه ثابت شول. په اوسني وخت کې روسیه هم کوښښ کوي چې د امریکا مخه په یوه نه یو ډول ونیسي او وایي چې امریکا باید ووځي، موږ کوښښ کوو چې په ګاونډیو هېوادونو کې داسې سوله راولو چې نړیوالو ته خطر نه وي. یعنې هدف یې دا دی چې خپل نفوذ کرار کرار په افغانستان کې بېرته لاسته راوړي او د امریکا وتلو ته د امکان تر حده پورې زمینه برابره کړي.

**و- چین**

د چین په موخه تراوسه زیاتره افغانان نه پوهېږي. د چین اصلي هدف خپل ځان له احتمالي اور څخه ساتل دي؛ هغه په دې معنا چې دغه هېواد وېره لري چې د وخت په تېرېدو سره هغه مسلمانان ورته سر درد جوړ نه شي، کوم چې په چین کې مېشت دي. یعنې په ساده لهجه د دوی وېره له خدای څخه نه ده، ځکه دوی نه خدای مني او نه هم رسول، بلکې له داعش څخه ده، نو کوښښ کوي چې طالبان صحنې ته راولي، ترڅو له داعش سخت درېځې ډلې مخنیوی پرې وکړي.

**سوله او د افغانانو لویې هیلې**

اوس نو د سولې راتلل به افغانانو ته په کوم قیمت تمام شي؟ د دې پوښتنې ځواب په وخت او د افغانانو په سیاسي شعور، بصیرت، ځانګړتیا، وړتیا او مهارت پورې اړه لري. افغانان تل په سیاست کې ناکام شوي. دا څرګنده خبره ده چې ملي حاکمیت د خلکو د ممثلینو له خوا تمثلېږي، څرنګه چې ټاکنې مو تر ډېره بریده ناکامې دي، له ظلم او فساد څخه ډکې تېرې شوې، نو فکر نه کوم چې د خلکو د ممثلینو له خوا دې د افغانستان ملي حاکمیت تمثیل شي، نو دلته په کار ده چې مدني ټولنې، ځوانان، ښځې، قومي مشران او سیاسي ګوندونه باید د هغو ملاتړ ونه کړي، چې د قدرت پر سر د پاتې کېدو لپاره خوبونه ویني او نه هم د هغو ملاتړ وکړي، چې قدرت ته د رسېدو لپاره له هرې ممکنې لارې څخه کار اخلي. هدف باید سوله وي، هغه په داسې ترتیب او چې په هغه کې د افغانستان د ملي ارزښتونو او ګټو ساتنه او د (ISI) د چلونو او فرېبونو مخنیوی شوی وي. یعنې اړتیا دا ده چې لاسته راوړنې باید وساتو او افغان پوځ پیاوړی کړو.

له بلې خوا څخه د طالبانو د مرکچي پلاوي مشر عباس ستانکزي ویلي چې د سولې په راتلو او امریکا پوځ له وتلو وروسته به افغان پوځ منحل کېږي او په ځواب کې یې ولسمشر اشرف غني ویلي چې دا کار به ونه شي او د پوځ وسایل به بیا پر ګاونډیو ونه پلورل شي. که چېرې افغانان د ګاونډیانو په ګټو، منطقوي او ساحوي سیاست باندې ځان خبر وساتي، فکر نه کوم چې هغه د پخوا تجربې دې بیا تکرار شي او دا ولس هغه د ۱۹۹۲ ز کال ولس نه دی چې څوک هر څه ورته ووایي او دوی یې ومني.

که سوله راځي، کېدای شي چې تر اتلسو میاشتو حتی تر دوو یا درې کلونو پورې وخت ونیسي، نو زما په نظر هغه سوله چې د افغانستان ملي ارزښتونه پکې خوندي وساتل شي، هغه که د ولسمشر اشرف غني له واک څخه د ګوښه کېدو په قرباني وي او یا هم د ولسمشر غني د حکومت په راس کې پاتې کېدو او یا د ځینو نورو تغیراتو په سر وي، په دې معنا چې غني به په خپل ځای پاتې وي او په همدې ټاکنو کې به طالبان برخه نه اخلي، ترڅو چې نوی نظام د شفافو رایو او پراخو ټاکنو په پایله کې راځي.

د ولسمشرۍ څوکۍ په بدل کې باید د سولې اړوند مسایل د لمر او سپوږمۍ په څېر روښانه وي، یعنې که غني واک سپاري، بیا به یې پر ځای د نړیوالو په ضمانت د شپږو شپږو میاشتو لپاره د انتقالي حکومت په راس کې داسې کسان راځي او ځي چې موجوده نظام په خپل حال وساتي او د منحل لپاره هېڅ ملي اداره ونه ټاکل شي.

وروسته بیا د غني او نورو ټولو سیاسي رقیبانو ترمنځ داسې ټاکنو ته زمینه برابره شي چې یو منتخب حکومت د شفافو رایو په ترځ کې رامنځته شي او د ملي ګټو او ارزښتونو د ساتلو ترڅنګ موجوده فساد، بې عدالتي او بې وزلي ختمه کړي.

باید په یاد ولرو چې که امریکا د ټاکنو بودجه افغانستان ته منظور نه کړه، نو خپله اوسنی حکومت د موقت حکومت شکل او بڼه غوره کوي. حساس وخت دی، ډېر عمق، ژور او صریح فکر ته اړتیا لرو او په ژورو موضوعاتو باید تل ځان پوه کړو، څو د اګاهانه قرباني مخه ونیسو.

## ټاکنو کمېسیون: د ټاکنو قانون تعدیل د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډ لپاره بهانه ده

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د حکومت له‌خوا د ټاکنو د قانون د تعدیلولو په غبرګون کې ویلي، چې دغه پرېکړه ځکه شوې، چې په ټاکنو کې لاسوهنو ته زمینه برابره کړي.

د دغه کمېسیون د ویاند مرستیال میرزا محمد حقپرست امریکا غږ ته ویلي، چې د ټاکنو د قانون د تعدیل لپاره د ارګ په مقدماتي ناستو کې د کمېسیون هېڅ استازي ګډون نه درلود او نه هم دوی په دې اړه کومې ناستې ته بلل شوي دي.

نوموړي ویلي: «دوی به کمېسیون په جریان کې اېښی وه، چې وړاندیزونه او نظرونه یې د ټاکنو قانون په تعدیل کې موجود وای چې یو ښه قانون منځته راغلی وای».

حقپرست ټینګار کړی چې ټاکنیز بنسټونو ته دا په هېڅ ډول د منلو وړ نه ده، چې د کمېسیون په چارو او د ټاکنو د قانون په تعدیل کې هر څوک د خپلو شخصي ګټو لپاره مداخله وکړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، چې د ټاکنو د قانون تعدیل په اوسني وخت کې چې د جمهوري ریاست د راتلونکو ټاکنو د نوماندانو نوملړ د ولسمشر او اجرایه رییس په ګډون خپور شوی دی، د افغانستان راتلونکي ته خطرناکې پایلې لرلی شي او له ټاکنو وروسته شخړې به په هېواد کې د کړکېچ لامل شي.

دغه کمېسیون په یوه اعلامیه کې هم ویلي چې د ټاکنو د قانون تعدیل د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډ لپاره یوه بهانه ده.

دغه کمېسیون ویلي چې د ټاکنو په قانون کې د تعدیل راوستل د وخت ضایع کول دي او په خبره یې، حکومت باید په راتلونکو ټاکنو کې د دې پر ځای پر امنیتي تدابیرو او بودجې غور وکړي.

دا په داسې حال کې ده، چې حکومت ویلي، د ټاکنو د قانون تعدیل یې په را روانو ولسمشریزو ټاکنو کې د شفافیت او اصلاحاتو راوستلو لپاره مطرح کړی دی.

بلخوا اجرایه رییس عبدالله عبدالله هم تېره ورځ د وزیرانو شورا په ناسته کې ویلي: «د ټاکنو قانون پر تعدیل او ټاکنیزو اصلاحاتو کار جریان لري او پایله به یې غوره نظام او راتلونکې ولسمشریزې او نورې ټاکنې وي چې په مخ کې یې لرو».

د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د ټاکنو د قانون د تعدیلولو موضوع په رسمي توګه سترې محکمې او له قانون څخه د نظارت کمېسیون ته لېږلې، چې له دوی سره خپل حقوقي نظریات شریک کړي.

## مشرانو جرګه: طالبان دې د حکومت له لوري د سولې وړاندیز ومني

وروسته له هغې چې ولسمشر غني ورمه ورځ په ننګرهار کې اعلان وکړ چې په کابل، کندهار او ننګرهار کې طالبانو ته د دفتر ورکولو او د هغوی د امنیت تېنګښت ته حاضر دی، د مشرانو جرګې د اداري پلاوي ځینې غړي وایي، فکر نه کوي چې طالبان به د حکومت دغه وړاندیز ته هم مثبت ځواب ووایي.

د دې جرګې مرستیال منشي فیصل سمیع ازادي راډیو ته ویلي، که طالبان د حکومت دغه وړاندیز ته مثبت ځواب ووایي، د سولې د مذاکراتو پر پروسې به مثبت اغېز وکړي.

هغه ویلي: «هغه خبرې چې ورمه ورځ ولسمشر وکړې، یو مثبت ګام دی. البته په افغانستان کې د سولې لپاره، په دې شرط چې طالبان دا درک کړي او حاضر شي چې له حکومت سره مذاکره وکړي، خو لکه څنګه چې لیدل کېږي، د حکومت هېڅ یو غږ ته طالبانو مثبت غبرګون نه دی ښودلی.»

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر محمد اشرف غني د یکشنبې په ورځ د ننګرهار له غني خېلو ولسوالۍ د لیدنې پر مهال وویل، چې د دوامدارې سولې د ټینګښت لپاره ان له خپله سره هم تېر دی.

هغه دا هم وویل چې چمتو دی چې په کابل او بل هر ولایت کې طالبانو ته دفتر ورکړي او ساتنه ترې وکړي.

په ورته وخت کې په قطر کې د طالبانو د دفتر ویاند، سهیل شاهین ورمه ورځ رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې دوی د مسکو په وروستۍ ناسته کې د دغه دفتر په رسمي کېدو خبرې کړې دي.

هغه د ولسمشر غني وروستیو خبرو ته په اشارې ویلي، چې محمد اشرف غني غواړي اصلي موضوع بدله کړي او د سولې هڅو ته زیان ورسوي.

افغان حکومت په داسې حال کې طالبانو ته په کابل کې د دفتر د پرانیستو وړاندیز کوي چې له دې وړاندې د افغانستان د سولې په تړاو ډېرې خبرې په قطر کې د دغې ډلې په دفتر کې شوې دي، هغه ځای چې په راتلونکو څو ورځو کې به یو ځل بیا د طالب استازو او امریکایي چارواکو ترمنځ د سولې د خبرو شاهد وي.

# له طالبانو سره تفاهم د سپټمبر يوولسمې د پېښو مخنيوی کوي

لیکنه: برهان عثمان / سرچینه: نیویارک ټایمز / ژباړه: ذاکر جلالي

متحده ايالتونو او طالبانو له هغې وروسته د تېرې جنورۍ په وروستيو کې د سولې په خبرو کې د پام وړ پرمختگونه وکړل، چې دواړه لوري داسې يوه ابتدايي تفاهم ته ورسېدل چې امريکايي ځواکونه به له افغانستانه وځي او په بدل کې به يې طالبان ژمنه کوي چې د دې مخنيوی به کوي، څو افغانستان يو ځل بيا د نړيوالو ترهگرو لپاره په امن‌ځای بدل نه شي. د متحده ايالتونو او طالبانو ترمنځ بايد ډېره پخوا داسې هوکړه شوې وای، البته يوه هر اړخيزه هوکړه چې په ترڅ کې يې د طالبانو له داخلي مخالفينو سره هم د شخړې لاره هواره شي. دا ډول يو توافق د جگړې د ختمولو يوازينۍ لاره ده.

دا وېره چې په افغانستان کې مېشت ترهگر ښايي پر متحده ايالتونو بريدونه وکړي، په دغه هېواد کې د امريکايي ځواکونو د پاتې کېدو او له واکه د طالبانو د لرې کولو عمده دليل دی؛ خو دا مسئله له واقعيته لرې ده او هسې يو توهم دی.

له افغانستانه د نړيوالې ترهگرۍ گواښ تر ډېره يوه تشه مبالغه ده. له کلونو راهيسې د امريکايي او افغان چارواکو دې ادعا چې گواکې شل ترهگري ډلې په افغانستان کې پر جگړه بوختې دي، گېچ کړی يم. افغان ولسمشر اشرف غني د ترهگرۍ پر ضد نړيواله جگړه کې دغه هېواد د لومړۍ کرښې په توگه انځوروي. دغه څرگندونې افغان ربړه په وېروونکي ډول پېچلې ښيي.

حقيقت دا دی چې افغان جگړه دوه ښکاره او واضح لوري لري، هغه څه چې په نورو اوسمهالو تيتو او پاشلو جگړو کې ډېر لږ ليدل کېږي. افغان جگړه د سوريې، عراق، ليبيا او يمن له گڼ‌لوريزو هغو ډېره ساده ده. د افغانستان په نږدې هره جگړه کې طالبان او حکومتي ځواکونه شامل دي، چې له دې سره مقاومت يوازې په طالبانو کې راخلاصه کېږي.

بهرنۍ جهادي ډلې چې په افغانستان کې په تېرو دوو لسيزو کې رامنځته شوې دي، تر ډېرو بدلونونو تېرې شوې او اکثره يې پيکه شوې يا له منځه تللې دي. القاعده چې يو مهال د افغانستان په سويل او ختيځ کې يوه ځواکمنه ډله وه، ورو ورو کوچنۍ شوه او پر يوه وړه ډله واوښته. دا حالت له يوه لوري د امريکا د سرسختې جگړې له امله او له بل لوري ځکه رامنځته شو، چې د القاعدې پام د افغانستان پر ځای منځنې ختيځ ته واوښت. د نورو وسله والو ډلو د له منځه تگ لامل بيا د طالبانو له لوري د يوې داسې محاسبه شوې هڅې نتيجه وه چې غوښتل يې مقاومت په خپل انحصار کې وساتي. پر مقاومت باندې دا انحصاريت په تېره جون مياشت (کوچني اختر) کې په ښه توگه وليدل شو، کله چې طالبانو درې ورځنی اوربند اعلان کړ. د داعش له خراسان څانگې پرته هېڅ بلې وسله‌والې ډلې هغه اوربند مات نه کړ. په ۲۰۱۵ ز کال کې د داعش د خراسان څانگې د زېږون يو لامل دا و چې طالبانو د بهرنيو جهادي ډلو او خپلو ځينو تونډلارو قوماندانانو تصفيه پيل کړه (تونډلاري په دغه ډله کې يوځای شول).

کله چې د داعش خراسان څانگه د افغانستان په ختيځ کې په لومړي ځل راپورته شوه، طالبانو تر بل هر چا وړاندې د دې ډلې پر ضد اقدام وکړ. طالبان د متحده ايالتونو د نظاميانو او افغان حکومت ځواکونو سربېره، يو له دغو دريو ځواکونو څخه وو چې د داعش خراسان څانگه يې د ختيځ افغانستان په ځينو محدودو لرې پرتو ولسواليو کې راټوله وساتله؛ که څه هم دې ډلې خپل ځواک څرگند کړ. د داعش خراسان څانگه چې ځپل شوې او په نښه شوې ده، له طالبانو وروسته دويم ستر نادولتي گروپ دی. پاتې «شل ترهگرې ډلې» لږ ځواک، لاسرسی او عملياتي ظرفيت لري. له دې ډلې تر نيمايي زيات محلي پاکستانۍ ډلې دي او هماغته مېشتې دي، ځينې يې لا پخوا له منځه تللې دي او نورې يې بيا وخت ناوخته خپلې ايډيالوژۍ او هويت بدلوي. د دغو ډلو ډېرى يې په پاکستان کې شيعه او عيسوي لږه‌کي په نښه کوي او کله هم ښايي هنديان په نښه کړي.

پاتې نورې ډلې د منځنۍ اسيا کمزوري او وېشل شوي تنظيمونه دي، چې د لوېديځ په پرتله دوی تر ډېره خپلو مستبدو رژيمونو جگړې ته اړ ويستي. د دوی ځينې ډلې يوازې له شلو تر دېرشو تنو غړي لري. د القاعدې او داعش له پاتې شونو پرته داسې هېڅ ښکاره شواهد نشته چې کومې وسله‌والې ډلې دې په افغانستان کې متحده ايالتونه گواښلي وي. له ۲۰۰۱ ز کال راهيسې د دغو ډلو په واسطه د متحده ايالتونو او اروپا پر ضد هېڅ داسې يوه حمله نه ده شوې چې افغانستان پورې تړاو ولري.

د امريکايانو او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو منتقدين پوښتنه کوي چې ايا د طالبانو دا ډاډ چې د متحده ايالتونو پر ضد له افغانستانه هېڅ ترهگريز اقدام ته به اجازه ورنه کړي، د باور وړ دی؟

له طالبانو هم، لکه بله هره ډله او يا دولت، توقع کېږي چې له خپلو گټو سره سم عمل به وکړي. د دې پر ځای چې دا وارزوو چې ايا طالبان د باور وړ دي يا نه دي، تر دې مهمې پوښتنې دا دي: ايا طالبان له افغانستانه د ترهگرو ډلو د ايستلو لپاره خپل دلايل لري؟ ايا دوی دا ظرفيت لري چې دا کار وکړي؟

ما له نړيوالو جهادي ډلو سره د طالبانو د اړيکو تکامل په ساحه کې څارلی. په افغانستان کې د داعش د څانگې پر ضد د طالبانو د زړه له کومې جگړه، د دوی اراده او ظرفيت ښيي چې هغه ډلې نه پرېږدي چې ځان ته يې حريفان بولي.

طالبان يوه ملي او سنتي ډله ده چې هېڅ نړيواله داعيه نه لري؛ د طالبانو دغه ايډيالوژي په تېرو څلورو کلونو کې چې د داعش د خراسان څانگه رامنځته شوې ده، لا ډېره تقويه شوې ده. د طالبانو مشرتابه په نږدې کلونو کې هغه قوماندانان تصفيه کړل، چې ايډيالوژي يې د طالبانو له عمومي نظريې سره همغږې نه درلوده؛ ځکه چې طالبانو پخوا له القاعدې سره تکتيکي توافق درلود. اوس مهمه پوښتنه دا ده چې ايا طالبان به په راتلونکي کې بيا هم د القاعدې کوربه‌توب وکړي او يا به د امريکايانو له وتلو وروسته د القاعدې د بيا پورته کېدو په مخنيوي کې پاتې راشي؟

د کلونو په ترڅ کې له طالبانو سره له پراخو مرکو او خبرو وروسته، زه دې نتيجې ته رسېدلی يم چې د طالبانو د ليکو هم پرگماټيک غړي او هم د اسامه بن لادن پخواني پلويان د القاعدې او د هغې له ايډيالوژۍ څخه ستړي شوي دي. نړيوالو جهادي ډلو ته د ځای ځايگي ورکولو له امله طالبانو خپل حکومت له لاسه ورکړ او د خونړۍ جگړې لامل شو. د طالبانو ډېری غړي اوس القاعده د خپلې داعيې لپاره يو گواښ بولي.

اوس له هرې نړيوالې جهادي ډلې سره د طالبانو په داخلي بحثونو کې ډېره لږه خواخوږي ليدل کېږي چې دا يوه لسيزه وړاندې د نړيوال جهادېزم لور ته د طالبانو له دوه‌زړي چلن سره ښکاره پرېکون دی (د ليکوال موخه نړيوالو جهادي ډلو ته ځای ورکول او يا هم ورسره اورگانيکي اړيکي ساتل دي) ژباړن.

د طالبانو له خوا د القاعدې او نورو نړيوالو جهادي ډلو ردول او د تصديق وړ تعهد کول چې د دغو ډلو د بياراپورته کېدو مخنيوی به کېږي، دا به د سياسي جوړجاړي په پايله کې ترلاسه کېږي. له طالبانو سره داسې سياسي هوکړه چې دوی د افغان سياست اصلي مسير ته راوگرځوي، دا فرصت زېږوي چې خپلې وړتياوې د ترهگرو ډلو په مخنيوي کې ولگوي.

داسې طالبان چې د ترهگرۍ پر ضد تعهد وکړي او د «يوه نوي» افغان حکومت برخه شي، دا به پر لوېديځ د ترهگريزو بريدونو په مخنيوي کې تر هغې ډېر موثر وي، چې لوېديځ په افغانستان کې ځواکونه ولري او ناپايه جگړه کې اخته وي.

# ولسمشر غني او حامد کرزی: په کب کې جوړېدونکې مشورتي لويه جرگه دايمي سولې او ثبات ته مهمه ده



ولسمشر غني ويلي په راتلونکي کب مياشت کې به د سولې مشورتي لويه جرگه رابولي. د نوموړي دغه اقدام د پخواني ولسمشر حامد کرزي له هر کلي سره مخ شوی دی او په وينا يې، يوازې د افغانانو ترمنځ مشوره کولی شي په هېواد کې د دايمي سولې او ثبات سبب شي. ولسمشر غني هم ويلي چې مشورتي لويه جرگه به د دايمي سولې لپاره لارې چارې ولټوي او په دې جرگه کې به د هېواد له گوټ گوټ او د هر قشر خلک حاضر وي.

ولسمشر غني تېره ورځ د لومړي ځل لپاره د سولې په اړه د مشورتي لويې جرگې رابللو ته تياری ښودلی دی. غني پرون د سولې په تړاو د حکومت له لوري يوې جوړې شوې مشورتي غونډې ته د خبرو پر مهال ويلي، چې په راتلونکې کب مياشت کې به د افغانستان د سولې په اړه مشورتي لويه جرگه رابولي.

نوموړي په خپلو خبرو کې ويلي چې د سولې عالي شورا بايد د افغان سولې په اړه د ټولو خلکو نظرونه واخلي، د هېواد له گوټ گوټه خلک راټول کړي او په دغه جرگه کې د افغان سولې په اړه اجماع رامنځ ته کړي. ولسمشر غني د دې جرگې دقيقه نېټه نه ده په گوته کړې، خو ويلي يې دي چې په کب مياشت کې به جوړه شي او ورپسې جوخت به په حمل مياشت کې د کابل پروسې بل کنفرانس جوړېږي. ولسمشر غني يو ځل بيا پر طالبانو غږ کړی چې له افغان حکومت او افغانانو سره مخامخ خبرو ته حاضر شي او په دې توگه په هېواد کې رواني جگړې ته د پای ټکی کېږدي. د نوموړي په خبره، افغانان د باعزته سولې غوښتونکي دي او هېڅ وخت هغه سوله نه غواړي چې د دوی د ارمانونو او هيلو د له منځه تگ سبب شي.

ولسمشر غني همدا راز د مسکو غونډې ته په اشارې ويلي، چې د افرادو په غوښتنه رامنځ ته شوې پرېکړې نه شي منلی، بلکې هغه پرېکړې ورته د منلو دي چې د ټول ملت په خوښه شوې وي او د هېواد د راتلونکې په گټه وي. د ده په خبره، د افرادو په شخصي غوښتنه له خپلې څوکۍ نه تېرېږي او نه هم په غير رسمي غونډو کې تر سره شوې پرېکړې ورته د اهميت وړ دي.

ولسمشر غني زياته کړې چې حکومت سولې ته جدي دی او همدا چې په کب مياشت کې د سولې په تړاو مشورتي جرگه وشي، ورپسې به د کابل پروسې په درېيم کنفرانس کې هم د سولې په تړاو واضح او جدي بحثونه کېږي. غني ويلي، سوله لا هم دوی ته لومړيتوب ده، خو هغه سوله چې د افغانانو په مشرۍ او مالکيت ترسره کېږي.

هغه همدا راز ويلي چې کله سوله کېږي، نو افغانستان به تر خپل څنگ قوي متحدين ولري او د دغه هېواد په جوړولو او پرمختگ کې به پوره هڅه کوي. د غني په خبره، اروپايي ټولنې ژمنه ورسره کړې چې تر سولې وروسته به دوی د افغانستان تر ټولو نږدې همکاران او متحدان وي او د هېواد په اقتصادي او سوداگريزه وده کې به خپله همکاري کوي.

ولسمشر غني د ټاکنيزو اصلاحاتو په اړه هم څرگندونې کړې دي. غني ويلي چې په ټاکنيزو کمېسيونونو کې ستونزې موجودې دي او دغو ستونزو خلک اندېښمن کړي دي، چې له همدې امله په يادو کمېسيونونو کې اصلاحاتو ته اړتيا ده. د ولسمشر غني په خبره، د قانون په چوکاټ کې پر اصلاحاتو اجماع رامنځ ته شوې ده او په يادو کمېسيونونو کې به ژور اصلاحات راځي.

ولسمشر غني داسې مهال د لويې جرگې د جوړولو غوښتونکی شوی، چې تر دې وړاندې ډېرو سياسيونو او مدني فعالانو د افغان ستونزې د حل لپاره لويه جرگه يوازينۍ لار بلله. پخواني ولسمشر حامد کرزي څو ورځې وړاندې هم په خپلو څرگندونو کې د سولې په اړه د مشورتي لويې جرگې د جوړولو غوښتنه کړې وه. هغه پرون په يوه خپره کړې اعلاميه کې د ولسمشر غني د څرگندونو هرکلی کړی دی. کرزي ويلي، د افغانستان ستونزه د ټول ولس ترمنځ د خبرو له لارې د حل وړ ده او دا کار يوازې مشورتي لويه جرگه کولی شي.

# ووټل: ډېر ژر به له سوريې د امريکايي ځواکونو وتل پيل شي

د امريکا د پوځ د مرکزي قوماندانۍ مشر جنرال جوزېف ووټل له رسنيو سره په مرکه کې ويلي، چې ډېر ژر به له سوريې څخه د امريکايي ځواکونو وتل پيل شي.

نوموړي د خبريال د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي، ښايي دا بهير په څو اونيو کې پيل شي. هغه دغه راز ويلي چې له سوريې څخه به د ځواکونو د ايستلو چارې له ټاکلي پروگرام سره سم پرمخ ځي.

د هغه په خبره، د پوځي پرسونل انتقال د وسايلو او تجهيزاتو د لېږد په پرتله اسانه دی او هغه کار چې اوسمهال ترسره کېږي، د هغو وسايلو تصفيه ده چې پوځ ورته اړتيا نه لري، خو نوموړي دا نه دي ويلي چې د سرتېرو او وسايلو د لېږد بهير به څومره وخت دوام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ د تېر کال په ډسمبر کې له سوريې د امريکايي ځواکونو د ايستلو د پرېکړې په اعلانولو سره د کانگرېس غړي او د امريکا نړيوال متحدان حيران کړل.

ټرمپ ويلي وو چې په سوريه کې د امريکايي ځواکونو حضور ته نوره اړتيا نشته؛ ځکه د ده په خبره، داعش ډله هلته ماته شوې ده.

په سوريه کې اوسمهال شاوخوا دوه زره امريکايي سرتېري مېشت دي چې ماموريت يې د سوريې له عرب او کرد متحدانو سره په گډه د داعش ډلې د پاتې وسله والو پرضد جگړه وه.

ټرمپ له دې پرېکړې وروسته د جمهوري غوښتونکو او د سيالو ډيموکراټانو او د ځينو هغو هېوادونو له نيوکو سره مخ شو، چې د تروريزم ضد جگړه کې د امريکا متحدان دي.

نيوکه کوونکو ويلي چې د ټرمپ له دغه کار سره به د امريکا کرد متحدان د ترکانو پر وړاندې يوازې پاتې او روسيې او ايران ته به په سيمه کې د نفوذ امکان برابر شي.

دا په داسې حال کې ده چې ووټل تر دې وړاندې د سنا د پوځي خدماتو په کمېټه کې ويلي چې له سوريې څخه د ځواکونو د ايستلو په مسئله کې له ده سره هېڅ راز سلا مشوره نه ده شوې.

نوموړي د سوريې په گاونډي هېواد عراق کې د امريکا د پوځي حضور په اړه ويلي، دی فکر نه کوي چې په عراق کې د سرتېرو په شمېر کې به بدلون راشي.

د يادونې ده چې ولسمشر ټرمپ يوه اونۍ مخکې ويلي وو چې په عراق کې د امريکا د پوځي حضور ساتل مهم دي، څو واشنگټن پر ايران څارنه وکولای شي، ځکه د ده په خبره، ايران په رښتيا سره يوه ستونزه ده.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### پنځم څپرکی
### څنگه نوی فکر وکړو؟




د نوي فکر (نوښت) د مانا په اړه يوه تېروتنه رامنځته شوې ده، لومړی به دا ورغوو. د يوې تېروتنې له مخې تراوسه يوازې علم، ټکنالوجي، هنر او ادبيات د نوښت يوازينې ډگرونه گڼل شوي دي. خلک چې د نوښت نامه اوري، نو د برېښنايي گروپ، د ماشومانو د پوليو واکسين جوړول، شعر ليکل، رسم ويستل يا کوم مينه ناک ناول ليکل يې ذهن ته راځي.

منم چې دې هر گام کې يو نوښت شته، بلکې د طبعيت د تسخير لپاره چې هر گام اخيستل شوی هغه د نوي فکر پايله ده، خو دا نوی فکر تر يوه ځايه محدود نه دی او نه يوازې د ځيرکو او نابغه خلکو کار دی.

نو نوښتگر فکر څه شی دی؟

يوه غريبه کورنۍ پلان جوړوي او خپل بچي ښې ښوونځي او بيا پوهنتون ته لېږي، د دوی دا پلان د نوښتگر فکر پايله ده.

بله کورنۍ د خپل کور له خړ پړ انگړ نه د سيمې تر ټولو ښه او ښايسته فضا جوړوي، دا نوښتگر فکر ښيي.

يو هره يکشنبه ماسپښين وينا کوي، څو اونۍ وروسته د وينا ورځې دوه کوي، دا خپله نوی فکر دی.

د معاملاتو ثبت، په داسې پيرودونکو سودا خرڅول چې د اخيستو نيت و نه لري، ماشومان په رغنده کارونو بوختول، داسې شرايط رامنځته کول چې خلک خپل کار ته لېواله شي او بلاخره د يوه جنجال حل کول، دا ټول ورځني عملي نوښتونه دي.

نوی فکر د کارونو نوې او ښې لارې چارې دي. په کور، کار او ټولنه کې د هر ډول برې ثمره ده، د کارونو د ښه ترسره کولو لپاره نوې لارې موندل دي. راځئ اوس دا وگورو چې د نوي او خلاق فکر موندلو او تقويې لپاره څه کولای شو.

لومړی گام. باور وکړئ چې کېږي. يو ساده حقيقت دی چې: هر څه چې کوو لومړی يې بايد په کېدو باور ولرو. د کار په کېدو باور، ذهن ته د عمل او حرکت لارې چارې ورکوي.

ټولگي کې زياتره وخت د نوښت د موضوع د لا ښه روښانولو لپاره دا بېلگه کاروم. محصلين پوښتم چې: (تاسې کې څو تنه داسې فکر کوي چې د زندانونو تړل به تر راتلونکو دېرشو کالو دوام وکړي؟)

ټول ډاډه شول چې ټوکې نه کوم، دې وخت کې يوه زما پر خبرې د اعتراض په ډول وويل: (نو ته څه وايې چې ټول غله، مجرمان او باغيان لارو او کوڅو ته راووځي؟ هله به څه کېږي؟ که داسې وشي، موږ کوم يو به خوندي وو؟ موږ بايد زندانونه ولرو.)

نورو هم شروع وکړه:

(زندان چې نه وي د ټولنې نظم خرابېږي.)

(ځينې خلک له موره مجرمان پيدا کېږي.)

(هر څه چې وي، خو موږ نورو زندانونو ته هم اړ يو.)

(نن دې په ورځپاڼه کې د قتل خبر ولوست؟)

همداسې دوام کوي او ماته د ځان ساتلو لپاره ښه ښه دلايل ويل کېږي. يوه پکې لا دا هم وويل چې موږ ته زندانونه د دې لپاره هم پکار دي چې پوليس او د زندان ساتونکي اوزگار نه شي.

زه د زندان پلويانو ته لس دقيقې وخت ورکوم چې دوی د زندان د اړتيا لپاره خپل دلايل ووايي، ورته وايم: (اوس به درته ووايم چې د زندان تړلو خبره ما د يوه بل مطلب روښانولو لپاره کړې ده.

موږ هر يوه د زندان د اړتيا لپاره خپل دلايل وويل، خو زه وايم چې يو څو دقيقې په خپل ذهن کې دا باور هم کېنوئ چې موږ په ټولنه کې زندانونه ختمولای شو.)

ټول زده کوونکي وايي ښه سمه ده، اوس لپاره به يې فرض کړو. زه ترې بيا پوښتنه وکړم چې: (ښه که داسې فرض کړو چې زندانونه تړلای شو، نو پيل يې بايد له کوم ځايه وکړو؟ )

لومړيو کې وړانديزونه لږ وي، يو کس زړه نازړه داسې يوه خبره کوي: (زه خو وايم چې که د ځوانانو مرکزونه تقويه شي، نو جرمونه ختمولای شو.)

څو شېبې وروسته هغه خلک هم له دې بحث سره لېوالتيا ښيي، چې لس دقيقې وړاندې يې زما د خبرې کلک مخالفت کاوه:

(فقر ختم کړئ، د جرمونو ريښه زياتره په بېوزله طبقه کې ده.)

(يوه څېړنه بايد وشي چې بالقوه مجرمين، له جرم وړاندې وپېژندل شي.)

(د ځينو مجرمينو درملنه بايد وشي.)

(د قانون پلي کولو لپاره دې ځينې مامورين وټاکل شي چې اصلاحي چارې ترسره کړي.)

دا د اته اوياوو بېلابېلو مفکورو بېلگې دي چې ما له ټولگي راټولې کړې او دا ټولې مفکورې د زندانونو د تړلو لپاره ورکړل شوې وې.

موږ چې د کار په کېدو باور ولرو، ذهن مو ورته د کېدو لارې پيدا کوي.

دا ازمېښت يوازې يوه پايله لري: که تاسې باور ولرئ چې دا کار نه کېږي، نو ذهن مو ستاسې د همدې د باور تاييدولو لپاره دلايل لټوي، خو که باور مو دا وي چې دا کار حتمن کېږي، نو ستاسې ذهن ورته د کېدو لارې چارې پيدا کوي. **دوام لري...**

# لويي پاستور

◀ حکمت ارين

لويي پاستور په يوه بېوزله او غريبه کورنۍ کې زيږېدلی دی. د نوموړي پلار غريبکار و او زده کړې يې نه وې کړې، خو پاستور په خپلو هڅو زده کړې پای ته ورسولې.

پاستور لومړنۍ زده کړې په خپله سيمه کې وکړې او لېسانس يې د بيسانکون له سلطني کالجه تر لاسه کړ. نوموړي خپلې زده کړې په همدغه ځای بس نه کړې، بلکې هڅه يې وکړه چې نورې زده کړې هم وکړي. نوموړی د دوکتورا کولو لپاره سټراسبورگ ته لاړ او د دوکتورا سند يې تر لاسه کړ، له هغه وروسته په ۲٦ کلنۍ کې په ۱۸۴۸ ز کال کې د سټراسبورگ په پوهنتون کې د کېميا استاد په توگه دنده پيل کړه او په ۱۸۵۷ ز کال کې د علومو اکاډمۍ د رييس په توگه وټاکل شو. نوموړی دغه راز د فرانسې د علمي او فرهنگي ټولنې اصلي غړی و او د مياشتې يې ۲۵۰۰۰ ډالره تنخوا اخيسته. نوموړی وايي، دا لومړی ځل و چې مور او پلار ته مې په ډاډه زړه د هرڅه غمه کوله. هغوی زما اتلان دي او ما يې د حق ادا کولو لپاره هرڅه وکړل، هغوی ته مې يوه خبره هم په لوړ اواز نه ده کړې، ځکه هغوی زما لپاره ډېر څه وکړل، په ډېره تنگ لاسۍ کې يې زه تر دې ځايه را ورسولم، هغوی وو چې زه يم او هغوی وو چې زما ژوند کې ستر ستر بدلونونه راغلل.

پاستور په ۱۸۴۸ ز کال د فرانسې په نرمال مدرسه کې ځينې ازمېښتونه ترسره کړل. له هغه وروسته هماغو ازمېښوتونو دېته اړه کړ، چې يو وړانديز مطرح کړي، دا وړانديز د فضايي کېميا اساس او بنسټ و .

نوموړی په بلور جوړونه کې د يوې تجربې د کشفولو لپاره، د يوه بل کېميا پوه پر تکراري کارونو چې په تار تاريکو مالگو باندې يې ازمېښت کاوه، بوخت و. پاستور په دغو ازمېښتونو کې داسې څه وليدل، چې هېچا ورته پام نه و کړی.

نوموړي له يوه ذره بين او پنس څخه په گټې اخيستنې، په ډېرې هڅې او ځيرکتيا سره محلول په دوو کوچنيو برخو جلا کړ، چې يو يې د ښي لاس بلورونه او بل يې د کيڼ لاس بلورنه وو، که څه هم د قطبي رڼا د اغېز له پلوه اصلي محلول غير فعال و، خو د بلورونو هره برخه به چې په اوبو کې حل کېده، نو له ځانه يې نوري فعاليت ښوده. سربېره پر ځانگړې گرځون دواړه محلولونه له يو بل سره برابر ول، خو په نښو کې يې سره توپير درلوده. له محلولونو څخه يوه هواره پولاريز شوې رڼا ښي اړخ ته او بل يې په هماغه اندازه کيڼ اړخ ته څرخوي. دا دواړه محلولونه په ټولو ځانگړتياوو کې په بشپړه توگه سره ورته وو. له هغه ځايه چې په محلول کې د رڼا په څرخېدو کې اختلاف وليدل شو، نو پاستور دې پايلې ته ورسېد چې دا اختلاف په ماليکولونو پورې تړاو لري، نه په بلور پورې او وړانديز يې وکړ، هغه ماليکولونه چې بلورونه يې تشکيل کړي دي، د بلورونو په څېر د يو او بل د هېندارې تصوير دی .

په دې اساس پاستور د داسې ايزوميرونو وړانديز وکړ، چې جوړښت يې يوازې د هېندارې د تصوير له پلوه او خاصيتونه يې يوازې د پولاريز شوې رڼا له پلوه سره توپير درلود. په دې ترتيب د پاستور له خوا د اناتيومري مفهوم کشف شو. اناتيومري، هغو ايزوميرونو ته وايي چې يو د بل د هېندارې تصوير وي.

پاستور په دې وايي:

«کله مې چې وليدل، چې مواد قطبي رڼا منحرفوي، نو دا فکر راته پيدا شو چې کېدای شي په دغه کار کې کوچني ژوندي موجودات ونډه ولري، نو مايکروسکوپيکه مطالعه مې پيل کړه او دا مې وليدل، چې د جغندرو د شيرې په منځ کې ډېر کوچني موجودات رول لري، چې د پوپنک په شکل دي، د همدغه پوپنک په ناقص تخمر کې له بل پوپنک سره د شيرې جوهر توليدوي. د مزاحمو موجوداتو د کړنو د مخنيوي لپاره چې د تخمر مخه نيسي، بايد هغه وابشوو . زما باور دا و چې که چېرې شراب په ازاده هوا کې کېښودل شي، نو تروه کېږي او په سرکه بدلېږي. دا نظريه د نړيوالو سترو معماوو د کشف لامل شوه او هغه د نړۍ د ډېرو کوچنيو موجوداتو شتون و، چې ميکروب نومېږي.

پاستور خپله نظريه رد کړه، نوموړي د دې څېړنو پايله د ۱۸۵۷ ز کال د اگسټ په درېيمه د علومو اکاډمۍ ته وسپارله او دايې ثابته کړه، چې پوپنک کنټرول ته اړتيا لري. پاستور څرگنده کړه، چې همدا ذره بيني موجودات د ډېرو ناروغيو لامل دي او په خپل دغه کشف سره يې بشريت ته تر ټولو ستر خدمت وکړ .

نوموړي د لاوازيه هغه نظريه چې ويلي يې وو: هر څيز چې له منځه ځي، له بلې خوا بېرته را منځته کېږي. په کلک علمي بنسټ ودروله او د يوې مرکې پر مهال يې وويل:

له مړينې وروسته هغه ذره بيني موجودات چې پر جسد باندې پاتې کېږي، د هوا له نشتون څخه په گټې اخيستنې، د ډېرښت يا د زېږون چارې ترسره کوي. جسد تجزيه او خوسا کوي، هغه وخت د مړي د جسد له تجزيې وروسته لاسته راغلي مواد د تغذيې په موخه د نورو حيواناتو او نباتاتو له خوا کارول کېږي او په دې توگه خپل ژوند ته دوام ورکوي .

پاستور په ۱۸۸۱ ز کال د پسونو ناروغۍ د بشپړې درملنې لپاره د تور ټپ (سياه زخم) واکسين کشف کړ او له دې وروسته يې د نورو ناروغيو د درملنې لپاره پراخې څېړنې پيل کړې او په ۱۸۸۵ ز کال يې د خپلو څېړنو پايلې په انسان وازمويلې او په دې بريالی شو، چې له هغې نېټې وروسته انسان له ډېرو ناروغيو څخه وژغوري .

د ميکروبونو کمزوري کول او د واکسين کيلي :

پاستور دا ومونده چې ميکروسکوپيک ژوندي موجودات د بېلابېلو ناروغيو سبب کېږي. نوموړی وايي:

«په پيل کې مې دېته پام شو چې څنگه کولای شم، په لابراتوار کې له دغو موجوداتو څخه ځينې يې وروزم ؟ (نن دا موجودات د باکټرياوو په نوم مشهور دي)، وروسته پوه شوم چې له دې ډلې څخه ځينې نور موجودات د حيواناتو په اوبدلو برخو کې وده کوي (نن دا موجودات د ويروسونو په نوم پېژندل کېږي)، وروسته له هغې مې د موجوداتو د ناتوانه کولو نظريه هم په ذهن کې تېره شوه، باکټرياوې مې په ځينو کېمياوي موادو کې ځای پرځای کړې او وروسته مې تودوخه ورکړه.

پاستور په دې توگه وکولای شوی چې باکټرياوې کمزورې کړې او په ځانگړې توگه په ويروسونو کې يې دا کار له يو حيوان څخه بل حيوان ته په لېږد کې ترسره کړ. پاستور ومونده چې دا کوچني ذره بيني موجودات ناروغۍ نه رامنځته کوي، مگر حيوان د ورته ذره بيني موجوداتو په وړاندې، چې له واکسين وروسته بدن ته ننوځي، ساتي.

له ډېرو ستونزمنو څېړنو وروسته، پاستور د ۱۸۸۱ ز کال په فبروري کې د تورټپ واکسين کشف کړ او په رسمي توگه يې اعلان کړ، چې دا ناروغي د نورو حيواناتو په پرتله په پسونو کې ډېره ليدل کېده. نوموړي دا ځل باکټرياوې په ۴۲۰ درجه سانتي گيراد تودوخه کې وساتلې او لږ اندازه پوتاشيم يې هم ور زيات کړل، په دې توگه وتوانېد چې کمزورې شوې باکټرياوې ترلاسه کړي. د هيپوليت روسينگل په نامه يو کس، چې د پاستور له ميکروبي نظريې سره مخالف و، هغه يې مناظرې ته راوغوښت او له هغه څخه يې وغوښتل څو د روسينگل په کرنيزو ځمکو کې پر ۵۰ پسونو خپل ازمېښتونه ترسره کړي. پاستور مناظره ومنله، ۲۵ پسونه يې واکسين کړل او له واکسين وروسته يې ياد پسونه د تورټپ ناروغۍ په وړاندې او پاتې ۲۵ پسونه يې پرته له واکسينه د دغې ناروغۍ په وړاندې پرېښودل. د جون مياشتې په دويمه پاستور د روسينگل کرنيزو ځمکو ته ورغی، څو د خپلې بريا شاهد واوسي، ټول واکسين شوي پسونه روغ او جوړ وو، مگر نور پسونه يا مړه شوي وو او يا هم ډېر سخت ناروغان وو .

پاستور په ۱۸۸۰ ز کال د لېوني سپي د ناروغۍ پر ويروس خپلې څېړنې پيل کړې، څېړنې ډېرې ورو پرمخ تللې، ځکه هغه له ويروسونو سره سروکار درلود او ويروسونه په لابراتواري چاپېريال کې وده نه کوي، مگر هغه له يوه حيوان څخه بل حيوان ته د ويروسونو د لېږد له لارو چارو گټه واخيستله او بريالی شو. د لېوني سپي ناروغۍ واکسين په ۱۸۸۴ ز کال نړۍ ته ور وپېژندل شو او له همغه ځايه ټولې نړۍ ته خپور او د گټې اخيستنې وړ وگرځېد.

هغه څه چې د لېوني سپي ناروغۍ له واکسين څخه ورته ډېره اړتيا وه، د انسانانو د لېونتوب واکسين و. ډېرې څېړنې ترسره شوې، وروسته د ۱۸۸۵ ز کال د جولای په شپږمه د تيودور وان په نامه يو کس د ژوزف مېسټر په نامه له يوه هلک او مور سره يې پاستور ته ورغلل، له دې څخه دوه ورځې وړاندې پر ژوزف د تيودور سپي، چې د لېونتوب ټولې نښې پکې وې، حمله کړې وه او ژوزف يې ۱۲ ځلې ځغلولی او خوړلی و، هغه ډېر سخت ټپي و. پاستور کولای شوی چې له هغه سره مرسته وکړي؟ پاستور له خپل يوه دوست سره چې ډاکټر و، مشوره وکړه او هغه ومنله چې ژوزف معاينه کړي. ژوزف له مرگ سره لاس وگرېوان و، تردې چې د شپې په ۸ بجو د درملو لومړۍ ستنه ورته ووهل شوه، له دې وروسته د ۱۱ ورځو لپاره، ۱۲ نورې ستنې هم ورته ووهل شوې. ځوان ژوزف روغ شو. دا دويم انساني واکسين و چې کشف شو، له دې څخه ۸۹ کاله مخکې د انسانانو د لېونتوب لومړنی واکسين، د ادوارد جنر له خوا کشف شوی و .

لويي پاستور په ۱۸۹۵ ز کال په پاريس کې له لنډې ناروغۍ وروسته په روغتون کې ساه ورکړه.

سرچينې: ويډيويي مرکې/ ويکيپېډيا/
عطامحمد مياخېل



## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤،۵۰ |
| € | ۸٤،۵۰ |
| Rp. | ۵۳۳ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۰،۹۰ |
| £ | ۹۵،۹۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه له فرصتونو استفاده وکړو؟

ژباړه: امان الله«حنيفي»

د هغو فرصتونو پېژندل چې په تاسې پورې اړه لري، ستاسې لپاره ښه خبره ده، خو که ونه غواړی یا ونه توانېږی چې له هغه استفاده وکړی، څه ګټه یا توان به وکړی؟

دا هم پر ځای خبره ده چې ټول فرصتونه د تعقیب او څار ارزښت نه لري. باوري يم چې ريچارد برانسون به هم له ټولو هغو فرصتونو چې ده لرل، استفاده نه وي کړې يا به يې نه غوښتل چې له هغه استفاده وکړي. خو هر وخت موږ ته داسې فرصتونه په لاس راځي چې بايد استفاده ترې وکړو او دا ټول زموږ په کړو وړو پورې تړوا لري چې بايد خپله ورته ځان اماده کړو.

غواړو په همدې مقاله کې هغه لارې چارې در وښيو چې پر مټ يې له خپلو فرصتونو په استفادې، خپلو موخو او هيلو ته ورسېږی:

**۱- يوازې په ځان پورې له تړلې خوشالۍ تېر شئ**

ډېری هغه فرصتونه چې په تاسې پوره اړه لري، تاسې په بېلابېلو لار ننګوي، مانا دا چې تاسې به له خپلې ورځنۍ خوشحالۍ تېرېږی او د دغه کار(له خپلې ورځنۍ خوشحالۍ تېرېدل) لپاره به ځان اماده کوی، څو بيا وکولای شی له هغو فرصتونو چې په تاسې پورې اړونديږي، استفاده وکړی. (تاسې ډېر وخت د فرصتونو له ګټې اخيستنې لرې پاتې شوی ياست او له همدې سره مو عادت کړی، ځکه خو پکې خوشحاله هم ياست، کله چې تاسې له فرصتونو سمه استفاده کوی، دا بيا له خپلې خوشحالۍ تېربدل درته ښکاري. ژباړن)

بايد له هرڅه مخکې د وېرې له کوټې راووځئ، مانا دا چې هغه خطرونه ومنی چې تاسې خپلو موخو او هيلو ته د رسېدو پر لار ترې وېرېږی. داهره يوه وېره خپلې بدۍ لري، تاسې هغه پايله چې د دغه وېرې له قبلولو وروسته به يې لاسته رواړی، د هغه له بدۍ سره پرتله کړئ او بيا پرېکړه وکړئ چې سرته يې ورسوی او که نه.

**۲- کوچني فرصتونه هم ارزښت لري**

بايد په ياد ولری چې ټول فرصتونه يو شان ارزښت نه لري. د فرصت کچه مهمه نه ده، بلکې هغه پايله يا نتيجه چې تاسې يې له هغه څخه لاسته راوړی، تر ټولو مهمه ده.

نو پر دې اساس بايد تاسې هېڅکله هغه پايلې چې فرصتونه يې تاسې ته په لاس درکوي، بې ځايه ونه ګڼئ. څوک پوهېږي، کېدای شي ډېر واړه فرصتونه تاسې ته لويو موخو ته د رسېدو لپاره بهانه شي. ښه خبره دا ده چې په ټوله انرژۍ او توان مو له هغو ټولو فرصتونو چې ستاسې په بريا کې يې ونډه ډېره او مهمه ده، په ښه ډول استفاده وکړئ.

**۳- له نوښتګرو خلکو سره اړيکه ولرئ**

«له ټولو سره اړيکه» ايا نن ورځ يو څوک دومره وخت لري چې له هرچا سره اړيکه ولري يا دغه کار کولای شي؟ د دې پرځای له هغو نوښتګرو او ربښتينو کسانو سره اړيکه ټينګه کړئ، چې له تجربو، پوهې، اړيکو او مهارتونو يې د خپلو موخو په لاسته راوړلو کې استفاده کولای شی. په دې پسې مه ځی چې ډېر ملګري ولری، بلکې د ملګرو په ارزښت او عادتونو پسې لاړ شئ.

له دې هرڅه سربېره، له هغو کسانو سره اړيکه لرل چې موخو ته د رسېدو پر نويو لارو چارو فکر کوي او پر پخوانيو نه ځي، تاسې ننګوي او بالاخره سيالۍ او رقابت ته مو هڅوي، څو تاسې هم خپلو موخو او هيلو ته له نويو او اسانه لارو ځانونه ورسوی.

**۴- ځينې هغه څيزونه چې بايد لرې ترې و اوسئ**

که غواړی له هغو فرصتونو چې په تاسې پورې اړه لري، په سم ډول استفاده وکړی، ښه ده چې له دغو کارونو يو هم ونه کړی:

په تېرو يادونو کې پاتې کېدل
د امکاناتو برابرېدو انتظار کول
د فرصتونو په تمه پاتې کېدل
له تېروتنې او ناکامۍ وېرېدل
کينه او شک کول.

په تېرو يادونو کې پاتې کېدل تاسې د لارې په منځ کې پرېږدي، که ريچارد برانسون د تېر وخت په ياد کې پاتې وی، ايا هغه به ميلياردر شوی وی؟ د فرصتونو په تمه پاتې کېدل، لکه د بخت ازمويل داسې دي، ممکن هغه څه چې تاسې يې غواړی، پېښ شي، خو په سلو کې ۹۹ سلنه هېڅ وخت دا نه پېښېږي، دا خبره ښه په خلاصو غوږونو واورئ.

موږ ټول له وېرو سره مخ کېږو، خو هغه وخت چې يو څه په ټوله مانا غواړی او د هغه لپاره جنګېږی، بايد هغه وخت ټوله وېره شاته واچوی، ځکه دا فرصت بل هېڅ وخت تاسې ته په لاس نه درځي. ژوند هېچا ته هم دويم چانس په لاس نه ورکوي.

**۵- لوی فکر وکړئ**

له فرصتونو سره د مخ کېدو په صورت کې، لنډ او محدود فکر کول، يوازې له هغو شرايطو چې ستاسې لپاره اماده شوي، د ګټې اخيستنې کچه مو محدودوي. د دغه څه په بدل کې بايد لوی فکر وکړئ. د هر هغه فرصت په مقابل کې چې ستاسې مخ ته راځي، لوی او مثبت فکر وکړئ. بايد پوه شی چې له هغه فرصته لاسته راغلې برخه ستاسې په تلاش پورې اړه لري.

**٦- اقدام وکړئ**

کله مو چې فرصت تر لاسه کړ، ډېر ژر له ځان سره فکر وکړئ، چې ايا د وخت په تېرېدو سره به يې بيا لاسته راوړی او که نه؟ که مو فرصت له لاسه ورکاوه، هرڅومره ژر چې کېږي ولو که هرڅومره لږ هم وي، خو له هغه استفاده وکړئ.

همدا وخت مو بايد له هغه څخه د لاسته راوړونکو پايلو اغېز وسنجوئ او له فعلي شرايطو سره داسې لاس پکار شی چې له تاسې سره هيلو ته په رسېدو کې مرسته وکړي.

که مو مخ ته راغلی فرصت ډېر په زړه برابر وي، پام مو وي چې پرته د هغه د پايلو له سنجولو يې لاس په کار نه شی، ځکه ډېر وخت د پايلو له سنجولو پرته لاس په کار کېدل، د سړي د توقع خلاف پايلې لري.

لومړی يې پايلې وسنجوئ او بيا وروسته د عمل لپاره اقدام وکړئ.

## اجرايه رييس: د هېواد موجوده نظام او اساسي قانون به دوام کوي

اجرايه رييس عبدالله عبدالله ويلي، افغان حکومت له هرې هغې هڅې ملاتړ کوي چې موږ سولې ته ورسوي، خو په خبره يې په دا شان هڅو او حرکتونو کې بايد د افغانستان د خلکو لاسته راوړنې او قربانۍ خوندي وي.

نوموړي تېره ورځ د وزيرانو شورا تر غونډې د مخه، له رسنيو سره په خبرو کې ويلي چې په دغه هېواد کې موجوده نظام او اساسي قانون به دوام پيدا کړي.

نوموړي زياته کړې: «له هرې هغې هڅې چې موږ سولې ته نږدې کوي، ملاتړ يې کوو، خو په دغو کوښښونو کې بايد د خلکو قربانۍ او لاسته راوړنې چې له ډلې يې جمهوري نظام، اساسي قانون، امنيتي او دفاعي ځواکونه او د خلکو فردي حقونه خوندي او د دغو قربانيو له حيثيته استازيتوب وشي، له دې پرته هېڅ ډول سوله د ټينګېدو او وړاندوينې وړ نه ده».



عبدالله دغه راز سولې ته د رسېدو لپاره په ملي يووالي او د سيمې او نړۍ د هېوادونو په همکارۍ ټينګار کړی دی.

د نوموړي په خبره، مقام او څوکۍ هغه کيفيت او خوند نه لري چې د سولې په فضا کې د يوه عادي وګړي په شان ژوند يې لري.

دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد، ځينو اسيايي او اروپايي هېوادونو ته خپل پنځم سفر وړمه ورځ پيل کړی.

بلجيم، جرمني، ترکيه، قطر، افغانستان او پاکستان هغه هېوادونه دي چې ښاغلی خليلزاد به د فبروري تر پايه پکې د افغان سولې د پروسې په اړه په خبرو بوخت وي.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې مخکې پخوانيو افغان چارواکو، د ملي شورا غړو او سياستوالو په مسکو کې له طالب استازو سره دوه ورځنۍ ناسته وکړه چې افغان حکومت پکې برخه نه درلوده.

په ورته وخت کې د افغان سولې او جګړې د انستېټيوت مشر حکمت الله اعظمي بيا په دې باور دی، چې په افغانستان کې د سولې هوکړې په بدل کې بايد د تېرو ۱۷ کلونو لاسته راوړنې او د خلکو قربانۍ له پامه ونه غورځول شي.


نوموړي ويلي: «طالب که سوله کوي، بايد د دې نظام برخه وګرځي، نه دا چې له سره نظام جوړ کړي، خو زه فکر کوم اکثريت افغانان بېرته د طالبانو هغه پخوانی نظام چې و، هغسې نه غواړي او ورڅخه زياتې اندېښنې لري. که چېرې طالب پخپله خوښه نظام جوړوي، دا به د اکثريت افغانانو اندېښنې را وپاروي، د تېرو ۱۷ کلونو چې کومې لاسته راوړنې دي، له دې څخه څوک سترګې نه‌شي پټولای.»

## محب: د سولې په پروسه کې به ۱۸ کلنې لاسته راوړنې خوندي پاتې شي

د ملي امنيت شورا سلاکار حمدالله محب ويلي چې د سولې په پروسه کې به د افغانستان د خلکو ۱۸ کلنې لاسته راوړنې خوندي پاتې شي او په دې برخه کې حکومت ښه نوښتونه هم درلودل.

نوموړي دغه څرګندونې د امريکا له سرپرست دفاع وزير سره په کابل کړې دي.

په دغه ليدنه کې د امريکا دفاع وزير د افغانستان د دفاع وزارت د ظرفيت او رهبرۍ له ښه کېدو خوښي څرګنده کړې او د هېواد د امنيتي او دفاعي ځواکونو د پياوړتيا لپاره يې د غوخ ملاتړ ماموريت او د امريکا د متحده ايالتونو د مرستو د دوام ډاډ ورکړی دی.



په همدې حال کې د هېواد د ملي امنيت سلاکار د افغانانو په مشرۍ او مالکيت د سولې بهير ته په اشارې، په دې برخه کې د امريکا د متحده ايالتونو له اقداماتو او همکاريو مننه کړې ده.

هغه دغه راز زياته کړې چې د افغانستان د خلکو ۱۸ کلنې لاسته راوړنې به د سولې بهير په برياليتوب کې خوندي پاتې شي.

محب ويلي چې د افغانستان حکومت د سولې پروسې په پرمختګ کې ښه نوښتونه لرلي او هممهاله افغان امنيتي ځواکونه د افغانستان له خلکو او ځمکنۍ بشپړتيا دفاع کوي.

بلخوا د ملي دفاع سرپرست وزير اسدالله خالد هم له خپل امريکايي سيال سره ليدلي او دواړو لورو د افغانستان په روانو امنيتي حالاتو هر اړخيزې خبرې کړې دي.

خالد د ملي پوځ وروستيو لاسته راوړنو ته په کتو، د امريکا متحده ايالتونو له هر اړخيزو مرستو مننه کړې او د ملي پوځ د پياوړتيا، مسلکي ښوونې او روزنې په برخو کې د نورو مرستو غوښتنه يې ترې کړې ده.

مسير ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

